مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم

۲۰۲۳/۱۰/۱۴

فالبین هوښیار دی که مړ ناپوه یو؟

۱۳۷۴ لمریز هجري کال و. تر دري کلن ځنډ وروسته مو پوهنتون له سره پیل کړی و. په خیرخانه کې د یوه ټولګیوال کره تللی وم. د قلعه نجارا د چوك ختیځ ته وسپنیزې غرفې کتار ایښې وي. اکثرې غرفې د محلي موسیقۍ دفترونه و. دا مهال چې په کابل کې تنظیمي جګړې روانې وې، اکثرو خلکو به ودونه په خپلو کورونو کې کول، د هوټلونو بازار سړ و. د یوې غرفې پر شیشې لیکلي وو:

کف شناسي جاوید جان ایراني

ملګري مې وویل: راځه، وګورو چې څرنګه فال ګوري.

په غرفه کې د شل - دوه ویشتو کلونو ځوانکی ناست و. د چپ لاس په مړوند کې یې سپین بنداژ له خپرې توربخن شوی و. لاسونه یې هم داسې خیرن وو، چې د پوستکي رنګ یې سړي ته نه ښکارېده، چې تور دی که سپین. ورته کښاستو. د میز شا ته پر دېوال لیکل شوي وو:

فیس کف شناسي ۱۰۰۰ افغاني میباشد

هاغه مهال د ډاکتر فیس هم زر افغانۍ و. زما لاس یې وکوت. په شمالیواله لهجه یې وویل: دوه واړې مو کور چور شوی دی. دري ښځې دې په قسمت کې دي، دري ځلور خارجي سفرونه لري، د خپلې خوښې پوهنځي ته نه یې کامیاب شوی، په انجنیرۍ کې ډېر استعداد لري، که کوشش وکړي ورته کامیاب به شي.

دغه وخت د کابل د ډېرو خلکو کورونه چور شوي وو، اکثر افغانان د دوو دریو ښځو شوقیان دي، هر څوك په همدې فکر کې و چې څنګه له دې ملکه ځان وباسي، په لاس کې مې کتابچه او جنګ ځپلې څېره مې د کانکور وهلو ځوانانو وه، ده ګومان کړی و، چې کانکور ته سبق وایم.

ما ورته وویل:

جاوید جانه! دوا دې شه. تا خو داسې خبرې وکړې چې ډېرو ته به ریښتیا وایسپرې. د کابل د ۹۰% خلکو کورونه چور شوي دي. ته چې هر چا ته دا خبره وکړې، درته وبه وایي چې بېشکه دې، خو زمور کور په هوایي بلاکونو کې دی، د چورګرو لاس نه دی وررسېدلی. په دې وخت کې څوك د یوه واده وس نه لري، که چا ته ووایي چې دري ودونه دې په برخه دي؛ څومره به خوشاله شي؛ خو ستا قسمت په دې خراب دی چې زه د څو ودونو مخالف یم. که چا ته د خارجي سفر زېرۍ وکړې، نو له خوښۍ به اسمان ته ټوپ ووهي؛ خو ماته خپل حال معلوم دی، چې سفر نه شم کولای. په کانکور کې زما اول انتخاب طب و، زه اوس د طب محصل یم او پښېمانه هم نه یم.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جاوید جان چې هر څه وکړل، ځان یې ونه شو سپینولی.

ټول فالبینان سره ورته دي. دوی ته د ټولنې کمزوري ځایونه ورمعلوم دي. په کوډو باندې باور، ټنبلي، تربګني، کورنۍ شخړې، غریبي او بې روزګاري هغه مسایل دي، چې د فال بینانو مړۍ یې غوړه کړې ده. د هر فال بین له خولې به خامخا دا خبره واورې چې پر تا باندې کوډې شوي دي. مور د هغه خبره ځکه منو، چې پخپله لټان یو، کار نه کوو، زیار نه باسو، هر چا ته د دښمن او تربور په سترګه ګورو، خپلې کورنۍ شخړې نه شو اوارولای، د خپلو ناسمو رواجونو په وجه مو یوه نه دوه کېږي. نو که څوك راته ووایي، چې پر تا کوډې شوي، دا د ځان په ګټه بولو. په دې توګه به خپل مسوولیتونه د نورو پر غاړو واچوو. ځان به قانع کړو، چې زه خو ګرم نه یم، دا ژوند چې مې نه ښه کېږي، زما قصور خو نه دی، خلك مې نه پرېږدي، خلك راباندې جادو کوي.

وایي چې دوو کسانو سره غېږه ورکړه، یوه یې بل راځملاوه. هغه چې پرې شوی و، له لاندې غږ وکړ: بچو دومره مه نازېږه، ته نه یې غښتلی، په ما کې څه شی نشته.

فال بینان به هم پر خپلې هوښیارۍ خوشاله وي، چې زرګونه خلك غولوي؛ خو اصلي خبره دا ده، چې دوی نه دي هوښیار، خلك ډېر ناپوه دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ